AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنګروال
۲۰۲۴/۰۴/۱۸

# ولې مولوي واصف د توپ خولې ته وتړل سو؟

## اويا ولې ميرمحمدقاسم خان لغماني باندې،

## د اعدام حکم وسو؟؟

مولوي محمدسرورخان واصف اوميرمحمدقاسم خان لغمانی ، دوی دخپل وخت او دخپلې ټولنې هغه ټولنيزاو سياسي شخصيتونه ول،چې دافغانستان په معاصرسياسي تاريخ کې،داسي يوګام واخست ،چې دټولنې په سياسي شعور کې دپام وړ ارزښت درلود.
دوی دځوانی په مهال هغه وخت يوله بل سره وپيژندل،چې دواړه په شاهي مدرسه کې وواودواړه ديوه پرمختللي مترقي فکرخاوندان وو.
هغه وخت په کلکته کې د« حبل المتين » په نوم يوه مهالنۍ خپرېده،چې دوه ګڼې به يې افغانستان ته راتلې ،چې يوه ګڼه يې امير حبيب الله خان ته اوبله يې سردار عبدالقدوس ته رسېده .
هغه ګڼه چې دامير دربار ته رسېده ،نوددرباريوه نامتوشخص له خوا به چې مير احمدشاه خان نومېده ،ميرقاسم خان لغماني ته دهغې شخصي دوستي له مخې چې يو له بل سره يې درلوده ورکوله .
مولوي واصف اوامير قاسم لغماني دواړو به له دغې مهالنۍ نه استفاده کوله اوداهغه مهال و،چې په ترکيه کې ځوانانودسلطان عبدالحميدخان په وړاندې اوپه ايران ، مصراوهند کې هم ، مشروطيت غوځونې ته لاره اواره شوې وه .
ديوشمېر کورنيواوبهرنيواغيزواوضرورتونوله مخې دډسمبرپه مياشت ، کال ۱۹۰۹مولوی محمدسرورخان اوميرقاسم خان په خپلوهڅودمولوی واصف په مشرۍ دمشروطيت تاريخي غورځنګ ته لاره پرانسته .
که څه هم داسې انګېرنې اوليکنې ترسترګوکېږي چې ګڼې دمشروطه غوښتونکوغورځنګ موسس دحبيبې ښوونځي مديرډاکتر غني و،ولې اوسنيپوڅېړنوښوده ،چې په دغه لړکې ، پخپله ميرقاسم خان لغماني خپل زوی «پوهنيار» ته په ځغرده ويلي دي ، چې دغه غورځنګ په هواد مېنو ځوانانوچې دصفوفو شمېر يې شاوخوا لسګونو تنو ته رسېده په خپلو سربښندونو جوړ اووپاله ،چې ديوه ځانګړي تشکيل له مخې په څوډلګېيو،چې دهرې ډلې شمېر يې لس تنو ته رسېده اوعمومي رييس يې مولوی محمدسرورخان واصف وپه خبلې مبارزې پيل وکړ .
په ۱۹۰۹کال دغورځنګ غړو،چې دمولوي واصف په مشرۍ په هغه تالارکې چې دحبيبي ښوونځي زده کوونکو به په کې زده کړه کوله غونډه وکړه، په دغه ناسته کې هندي ډاکترغني اووروڼو يې برخه نه درلوده .
په دغه ناسته کې اميرحبيب الله خان ته، ديوې عريضې دتسويدوړانديزهم وشو ،چې په کې داسي راغلي وو:
په ځنوهېوادونو کې،خلک دزوراوګواښ له مخې حکومتونه مجبوروي،چې نظام دخلکو غوښتنو غاړه کېږدي، مشروطه شکل اوقوانين پرې ومني،ولې دځنو هيوادونوپاچايان دروښانفکرواوروند اندوپه نوښت ،دټولنې دودي اوپرمختګ لپاره،په هيوادکې دمشرويت اصولوته غاړه ږدي...
دغه عريضه ديوه نامتوشخص پروفيسرغلام محمدخان ميمنګي په وسيله ،په جلال اباد کې دامير حبيب الله خان حضور ته وړاندې شوه .
امير پرته له دې چې ددغو هېواد پالوروښانفکرو، د روا غوښتنو پخلې وکړي، په ډېر غضب يې ديوشمېر درباريانو په لمسون امر وکړچې ددغه غورځنګ ځلور مخکښ اونوښتګرځوانان له مينځه يوسي،چې دوه تنه يې دستي د درباريانو له خوا په تومانچه ځای پرځای ووژل سول .
په دغه مهال غوربندی جوهرشا خان همله و،چې امير ورته دحرام نمک خطاب وکړ،ولې هغه ورته ووېل،ما ددې بېوځله اوبېوسه ولس نمک خوړلی دی اودخپل زوند ترپايه به زه ، دې ولس اوملت ته وفاداره پاتې شم اوخپل ځان به دولس دګټو لپاره قربا نې کړم .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

بیا یي په څغرده ورته ووېل،چي دپاچا رښتني دنده دملت دسر اومال،حیثیت،ناموس ساتل دي،ولي حرام نمک تاسو یې ، چي دملت دخلکوپه پت،عزت اوناموس تیری اوتجاوز کوی اوشپه و ورځ په بېباکی ،عیاشی اوبې ناموسی کې غرق یې ...

دده خبرې لا پا یته نه وې رسېدلي،چي دامیر په امرپه تومانچه وویشتل سواودتاریخ ددغه اتل زوند ته یې دپای ټکی کېښود .

کله چي مشروطه غوښتونکي دپاچا له کاواکه اوبېباکه تصمیم خبر شول،وې پتېیله چي نړیوالي رسانۍ له دې پرېکړې خبر کړي . نو په دغه لړکي دسرورخان پرواني زوی عثمان خان پرواني،چي ددربار له غلام بچه ګانو څخه و،وې غوښتل هند ته ځان ورسوي اوډلېیزورسانېیوته دمشروطه غوښتونکوستونزې اودمرګ کوم ګواښ سره چي مخ دي دنړیوالو غوږو ته ورسوي .

ولي له بده مرغه چي دموندو په سیمه کي ونیول سواولاس تړلی یې دامیر حضور ته راووست اوهغه هم په سپکو سپورو وکنځه ... ،ولي عثمان خان ورته ووېل ، زه پوهېږم چي زما دژوند ډېرې شپې نه دي پاتي ، خوموږ ستا دوزلو نیت نه درلود، ولي غوښتل موچي افغانستان دمشروطه غورزنګ له لارې اصلاح اوپر مخ لاړ سي .

بیا هم امیر امر وکړ چي دی دتوپ خولې ته وتړی ! وایي لوځوی !! اوهمداسي هم وشول... ولي نه یوازې دی ، بلکي دده ملګری محمدایوب خان پوپلزی هم له ده سره یوځای ونیول سو اودواړه په توپ والوځول سول .

مولوی محمد سرورخان واصف چي ددې غوزنګ موسس اومشر و اوکله چي دی دشیر پور په غونډۍ کي دتوپ خولې ته تړه،نودقلم اوکاغذ غوښتنه یې وکړه اودیوه وصیت په توګه یې راتلونکي نسل ته ولیکل :

ترک مال وترک جان وترک سر

درراه مشروطه اول منزلست

نه یوازې دی بلکي ورور یې سعدالله خان الکوزی چي دی هم دهمدې غورزنګ غړی و، دمولوی واصف زوی احمدجان اوهمدارنګه دمشروطیت بل غړی عبدالقیوم خان الکوزی یې هم دتوپ خولې ته له ده سره یوځای وتړل اووالوځول سول .

دلومړۍ ډلي دمشروطه غوښتونکودغورځنګ غړودشمېر، چي مشر یې مولوی واصف و، په دې باب ویشلي نظرونه موجود دي ، تاریخپوه غبار ددوی شمېر۴۵تنه، پوهاند حبیبي ۴۱تنه... ولي « پوهنیار» دخپل پلارمیرقاسم خان لغماني له خولې چي هغه وخت دی ددې غورزنګ منشي اومولوی واصف دغورزنګ مشر وو، په سرکي دټولومشروطه غوښتونکوشمېر ۵۲ تنه ښودلی دی.

سره ددې چي دمشروطیت غورزنګ خپله تګلاره په بشپړه توګه کښلې ده ،خولویه موخه یې دکور دننه په سیاسي ، اقتصادي اوکلتوري چارو کي اصلاحات اوپرمختګ وواوپه بهرني ډګرکي،غوښتل،چي افغانستان یوخپلواک اوسرلوړی هېواد وي،چي له انګریزانو خپله خپلواکي تر لاسه کړي .

دوخت په تېرېدو،... سره دهغې چي دغه غورزنګ ډېره قرباني ورکړه ،خوبیاهم ترډېره یې د خپلو موخوپخلی وکړاوتر یوه برېده هدف ته هم ورسېدل ، تولنیز شعوروده وکړه او دغه بله شوې شمه له ډېرو قربانیوسره سره مړه نه شوه،(چي موږ دویم مشروطه غوښتونکی خوځښت اونوښت دساري په توګه یادولی سو...)، دخپلووینو بدل یې واخست اودامان الله ترمشری لاندې شاهي مشروطه نظام ته لاره اواره کړه .

موږدمخه دیوشمېرانګېرنولمه مخې ووېل ،چي ځني وایي دمشروطه غوښتونکوغورځنګ موسس ډاکترغني و،ولي نه یوازې میرقاسم خان لغمانی ددې خبرې مخالف دی ،بلکي یوشمېرنور هم دانه مني چي ډاکترغنی ددې غورزنګ مشر وو.

په دې اړه ویل کېږي،وایي چي«دکندهاریواوسیدونکی کاکاسیداحمدخان،چي دی هم په دې تورنیول شوی و،بیچا ورته په زندان کي ووېل ته هم دډاکتر غني دپېښي بندی یې ؟

سیداحمد کا کا ډېر په غوسه سواوپه داسي حال کي چي ډاکتر غني اونور بندیان هم هلته ناست ول،په لوړ اوازپه ډېرې بېباکۍ ووېل :

« زه دډاکترغني ښځه داسي داسي...، زه دغني په فقره کي بندي نه یم ، بلکي پخپله پکره کي بندي یم . » حال داچي ددې غورزنګ مقدماتي غونډه ۱۹۰۶ کال په شوربازاردمیرقاسم خان لغماني په کور کي جوړه سوې وه .

میرصاحب نه یوازې دلومړي مشروطه غوښتونکوله بنسټګرو څخه و، بلکي ددویم مشروطه غوښتونکوله غورزنګ سره هم مل واودژوند ترپایه دغه ارمان ته ژمن پاتي سواوپه دغه لاره کي ډېر کړاوونه وګالل .

میرقاسم لغماني نه یوازې دمشروطه غوښتونکودغورځنګ په لاره کي ډېرې ستونز ې اوقبرباني وګاللي ، بلکي دراتلونکوپېښوقرباني هم سو...

هغه مهال چي محمدنادرخان په ۱۳۱۲هجري کال د چهارشنبې ورځ دعقرب په ۱۶مه نېټه دعبدالخالق نومي له خوا ووژل سو...په دغه تور ډېر کسان ونیول شول ،چي یوهم میرقاسم خان لغمانی و.

دی په دې ګناه زندان ته تېل وهل سو،چي دښووني روز نې په وزارت کي یولوړ پوړی چاروا کی واوولي یې زده کونکي سم نه وروزلي اودهغو له کړو وړو نا خبر وو...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولـئ

محکمې دی پرته له کوم سند نه په اعدام محکوم کړ، ولې فیض محمدخان زکریا ووېل،موږ کوم سند نه لرو،چې هغه پرې اعدام شي اوکه ګناه يې همداوي چې هغه دښووني روزنې په وزارت کې دنده در لوده،هغسې خو زه هم د معارف وزير وم .
شاه محمودخان ووېل،داسمه ده چې موږ دهغه په اړه کوم قوي سند نه لرو، خوڅرنګه چې محکمې حکم کړی بايدووژل سي.
دعدلې وزيرفضل احمد مجددي،دپوځ رييس احمد علي خان،عبدالغني خان ګردېزي کلا يې بېګي اويوشمېر نورو ټينګار کاووچې باياعدام سي ،چې شاګردان يې اداره نه شو کړی .
مجددي وويل،ما پخپله واورېدل چې ميريو« دهري » دی اومولوی عبدالرب تره کی اومولويې محمد ابراهيم خان کاموي دجميعت العلما غړی ، زما شاهدان دي ... دتميز محکمي ريس عبدالرب ووېل هو!! زه اوکاموي ورغلوميرقاسم ووېل چې دالله کلام..؟!
مير زا محمد خان يېتلي ووېل،دشاه شهادت بايد ، دهرېت پورې ونه تړل شي او زکر يا هم ټينګار وکړ، که چېر ته ميرقاسم لغمانی چې يوبې ګناه انسان دی وژل کېږي بايد زه هم اعدام شم .
عبد الغني خان قلعه بېګي اواحمد عليخان ورسره نايب سالارغوث خان په لوړاواز وويل،وزيرصاحب تاسو هم بايد په دار وځړول شئ ... اوبيا احمدعليخان هغه له ګريوانه ونيواوکش يې کړ .
دغه پېښې په داسې مهال يودبل پسې مېنځته راغلې،چې په ۱۹۲۳کال دجون په ۶مې نېټې په جرمنې کې دافغان محصل سيدکمال له خوا ، دمحمد نادرخان مشر وروزعزيزخان دمحمد داود خان پلارپه جرمني کې چې افغان سفير په توګه دنده درلوده ووژل سو... همدارنګه له دغې پېښې وروسته دنجات (اماني ښوونځی )ښوونکي محمد عظيم،غوښتل په کابل کې دبرېتانې سفيروژني ،خو بريالی نسوولې دسفار ت درې نور کار کوونکي ووژل سول اودرېيمه پېښه داوه چې نا درخان ترور شو.
داچې مير قاسم خان اعدام نه سو ستر لامل يې دښوونې روزنې دوزير زکريا ملاتړوه چې دهغه په بې ګناهي يې ټينګار کاوو .
ميرقاسم خان لغمانی دسيدغلام محمد چهار باغي لغماني زوې و،چې دامير عبدالرحمن خان په دربار کې دده کورنۍ استاد واومير قاسم خان پداسې علمي کورنۍ کې زيږېدلی و، چې په عربي ژبې غږېدلی سواودحبيبې په ښوونځي کې استاد و.
ديوه مترقي انسان په توګه وځلېداوېر زرپه شيرپور کې زنداني شو ، ولې دپلارپه سترګوچې دامير حبيب الله خان استاد و له بنده ازاد سو.
دی امان الله خان ته هم نږدې واوديوڅه وخت لپاره دامان افغان جريدې مدير و(۱۳۰۰--- ۱۳۰۵ ) اوبيا دشاهي دربارمنشي وټاکل سواودسقاو دزوې په مهال له دندې ګوښه شو.
کله چې محمدنادرخان واک ته ورسېد ، په ۱۳۰۸ کال شاو خواکې دښووني روزنې معين وټاکل سو،خوکله چې نادر شاه ووژل سو، دی هم په دې تور زنداني اوپه اعدام محکوم شو.
لکه دمخه مو چې ووېل دزکريا په هڅواعدام نه سو، ولې ۱۶کاله په زندان کې پاتې شواوپه ۱۳۲۸ کال له بنده ووت اوپه ۱۳۵۷کال د۳شنبې ورځ دحوت په ۲۲نېټې ومړ.
ارواېې ښاده اوياد يې تلپاتې .( پاتې په بل ځپرکي کې )


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ